د افغانستان اسلامي امارت

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

د ماليې وزارت

صادق او امين سوداګر

د حديث شريف ژباړه: نبي كريم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: صادق او امين سوداګر به له نبيانو، صديقينو او شهيدانو سره يوځاى وي. [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ١٦٥٣ ج: ٣ شان الحديث ٢٥٨١،( ابن ماجه كتاب التجارة باب الحث علي المكا سب ص: ١٥٥)]

تاجر صادق و امين

ترجمه حديث شريف: نبی کريم صلى الله عليه وسلم فرموده است: تاجر صادق و امين در جمع نبيان، صديقين و شهدا خواهد بود. [رواه الترمذي و مسند الدرامي باب في التجارة الصدوق)ص: ١٦٥٣ ج: ٣ شان الحديث ٢٥٨١، ( ابن ماجه كتاب التجارة باب الحث علي المكا سب ص: ١٥٥)]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

شنبه| د شعبان المعظم ٣٠-١٤٤٦ال س/ د كب ١١-١٤٠٣ال ل/ د فيبروري ٢٩-٢٠٢٥ز/خلورم کال / ۱۳٤ ګڼه/ ٤ مخیزه



## سرمقاله

# ارزش صرفه‌جویی در بودجه ملی

صرفه جویی در بودجه به معنای کنترل و مدیریت هزینه‌ها به گونه‌ای است که منابع مالی به بهترین نحو ممکن استفاده شوند. این عمل می‌تواند تأثیرات مثبت زیادی بر روی وضعیت مالی فردی یا سازمان داشته باشد. در دنیای امروز، مدیریت بهینه منابع مالی یکی از چالش‌های بزرگ برای کشورهای مختلف است. با توجه به شرایط اقتصادی و اجتماعی، صرفه‌جویی در بودجه ملی نه تنها ضرورتی اجتناب ناپذیر است، بلکه می‌تواند به عنوان کلیدی برای توسعه پایدار کشور محسوب شود. صرفه‌جویی در بودجه ملی به معنای استفاده بهینه از منابع مالی، کاهش هزینه‌ها و جلوگیری از هدر رفت منابع است. در شرایطی که کشور ها با بحران های اقتصادی و محدودیت‌های مالی مواجه باشد، این امر اهمیت بیشتری پیدا می‌کند. صرفه جویی در بودجه ملی به دولت کمک می کند تا منابع مالی را در پروژه های اولویت دار و انکشافی سرمایه گذاری کند. این امر می تواند به رشد اقتصاد کمک کند. از سوی دیگر با کاهش هزینه ها، دولت می تواند نیاز به وام های خارجی و داخلی را کاهش داده و در حفظ منابع طبیعی کمک کند. با سرمایه گذاری در پروژه های پایدار، می توان آینده بهتر برای نسل های آینده ساخت. صرفه‌جویی در بودجه ملی نه تنها به بهبود وضعیت مالی کمک می‌کند، بلکه تأثیرات مثبت زیادی بر روی کیفیت زندگی و توسعه جامعه دارد. با مدیریت صحیح هزینه‌ها و تمرکز بر اولویت‌های مالی، می‌توان به اهداف مالی بلند مدت دست یافت و از بحران‌های مالی جلوگیری کرد. وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان همواره تلاش نموده است که از مصارف غیر ضروری جلوگیری و به منابع اصلی و اولویت های ضروری متمرکز شود که می توان از جلوگیری خریداری وسایل تجملاتی، به کار گیری تکنیک های مدرن مدیریتی، تقویت سیستم مالیاتی (افزایش عواید مالیاتی)، کنترل مصارف دولتی نامبرد. همچنان اولویت دادن به پروژه‌های که بخشی از آن تکمیل شده و بخشی دیگر در حال اجرا است و این امر افزون بر تسهیل روند توسعه کشور، برای صدها نفر فرصت‌های شغلی نیز فراهم کرده‌اند. این پروژه‌ها نقش مهمی در توسعه زیربناها و تقویت اقتصاد ملی ایفا می‌کنند. علاوه بر این وزارت مالیه برای تطبیق اصل صرفه جویی در ادارات به واحد های بودجوی ورکشاپ های آموزشی پیرامون ترتیب بودجه مطابق به اصولنامه در شروع سال مالی راه اندازی می کند تا بودجه ملی به صورت اصولی و درست تطبیق و اجرا گردد.

**با احترام**

**اداره**

# د حيرتان ګمرک د موټرونو تمځای په اساسي ډول جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل سو




د ګمرکونو لوی رياست له لوري د څه بانډي (۴۹) ميليونه افغانيو په ارزښت د حيرتان په ګمرک کې د موټرونو تمځای جوړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل سو. د دې تمځای په (۴.۵) جريبه ځمکه کې په اساسي ډول کانکريټ اچونه سوې او په (۱۰جريبه او ۵۰۰) متره مربع ځمکه کې ژغل اچول سوی، چې په يوه وخت د شاوخوا (۱۳۰) بار وړونکو موټرونو د درېدو ظرفيت لري. همدارانګه په دې تمځای کې د پلي تګ منظمې لارې، (۱۲۴۰) متره مربع زرغوني سيمي، (۱۹) دانې جذبي څاګانې، د روښنايې له پاره (۱۰) پايې د برېښنا ستنې او په بله ژغل اچول سوې برخه کې د موټرونو د تمځای له پاره د (۴۰۰) متره په اوږدوالي سره ډبرين دېوال هم شتون لري. د موټرونو د ياد تمځای له جوړېدو سره به موټر چلوونکو، سوداګرو او د سوداګريزو توکو د تشرېح له پاره د ګمرک کارکوونکو ته ګټې اسانتياوې برابري سي. د يادوني وړ ده، چې د يادي پروژې لګښت د ماليې وزارت له پراختيايې بوديجې څخه ورکول سوی دی او چاري ئې په (۷) مياشتو کې د يوه افغاني شرکت له لوري بشپړي سوې دي.

# د فراه ولايت د ابو نصر فراهي ګمرک ليليه ګټې اخيستنې ته وسپارل سوه




ليليه عصری به کارمندان ګمرک ابو نصر فراهی ولايت فراه به ارزش (۱۲،۸) ميليون افغانی از سوی رياست عمومی ګمرکات وزارت ماليه ساخته و به بهره برداری سپرده شد. ليليه متذکره به شکل ميعاری در دو طبقه اعمار شده است، که دارای (۲۱) باب اطاق، حمام های عصری، تشناب و تجهيزات مهم ديګر را دارا ميباشد، که بعد از اين سهولت های مزيد را به کارمندان اين ګمرک فراهم ميګردد. هزينه اين پروژه از بودجه انکشافی وزارت ماليه پرداخت شده و کار باز سازی آن توسط يک شرکت افغانی در (۱۴) ماه به پايه اکمال رسيد. قابل ذکر است، که به منظور ايجاد سهولت برای تاجران و کارمندان در ګمرکات کشور پروژه های مختلف تطبيق ګرديده و يک تعداد ديګر آن تحت جريان قرار دارد.

# د نيمروز په ګمرک کي څه باندي(۴٦) ټنه تاريخ تېر توکي وسوځول سول

د ماليې وزارت د نيمروز ګمرک رياست له ولايتي ادارو سره په همغږۍ (۲۹۲۷۰) کيلو ګرامه تاريخ تېر خوراکي او غير خوراکي توکي او (۱۷۲۳۰) کيلو ګرامه تاريخ تېر درمل، چې د ياد ګمرک په هنګرونو کي ئې شتون درلود؛ د اړوندو ادارو د صلاحيت لرونکي پلاوي په شتون کي وسوځول. دغه تاريخ تېر قاچاقي توکي، چې د هيواد په بېلابېلو سيمو کي نيول سوي وو، د نيمروز ولايت په ګمرک کي له راټولولو وروسته، له اړوندو ادارو سره په همغږۍ وسوځول سول. هېره دي نه وي، چې د ماليې وزارت تل هڅه کوي، څو هيواد ته د تاريخ تېر او بې کيفيته توکو له را واردولو څخه مخنيوی وکړي او د له منځه وړلو په برخه کي ئې هم اړين اقدامات ترسره کوي.








آمريت مستقل سمع شکايات مقام وزارت ماليه به ۱۸ شکايت رسيدګی کرده است

م ۲




د خوست ولايت د غلام خان په ګمرک کي د صادراتي توکو د وزن معلومولو په موخه يوه پايه د لوړ ټناژ تله جوړه او ګټې اخيستنې ته وسپارل سوه

م ۲




د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رئيس د امربالمعروف وزارت لخوا د همغږۍ په جوړه سوې غونډه کي ګډون وکړ

م ۲



برنامه آموزشی اساسات و مهارت های تفتيش برای مفتشين برګزار ګرديد

م ۲



د تصميم نيوني بنسټيز ټکي

م ۳



د چين - افغانستان د کانټينرونو نوي مسير د قزاقستان او اُزبکستان له لاري سوداګريزي اړيکي پياوړي کړې

م ٤

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

## د خوست ولایت د غلام خان په گمرک کي د صادراتي توکو د وزن معلومولو په موخه یوه پایه د لوړ تناژ تله جوړه او گټې اخیستني ته وسپارل سوه




د گمرکونو لوی ریاست د (۳،۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د خوست ولایت د غلام خان په گمرک کي د صادراتي توکو د وزن معلومولو لپاره یوه پایه د لوړ تناژ تله جوړه او گټې اخیستني ته ئې وسپارله. دغه تله، (۲۲) متره اوږده او (۳) متره پلنه ده، چي د (۱۲۰) ټنه وزن معلومولو وړتیا لري. د یادي تلې په جوړولو سره به د ملي عوایدو له ضایع کېدو او اضافه وزن وړلو مخنیوی وسي. د یادوني وړ ده، چي څه موده وړاندي د بلخ ولایت د نائب آباد په گمرک کي دوه پایې، د اقینې په گمرک کي یوه پایه او د هرات په گمرک کي هم یوه پایه د لوړ تناژ تله ترمیم او گټې اخیستني ته وسپارل سوه.

## د تورخم په گمرک کي جعلي سندونه نیول سوي دي



د تورخم گمرک د ځانگړې مفرزې قطعې د گزمې پر مهال یو شمېر جعلي سندونه، چي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي وو او قاچاق کوونکو غوښتل په پټه ئې افغانستان ته راوړي کشف او ضبط کړل. په دې نیول سویو جعلي سندونو کي (۱۰۰۲) دانې نکاح لیکونه، (۳۱۵) دانې د موټرونو لایسنسونه، (۴۷۱٦) دانې د بهرنیو چارو وزارت ټاپې، (۴۴۰) دانې اماراتي تذکرې او (۵۹۰) دانې د تېر نظام تذکرې شاملي دي. په دې تور دوه کسان نیول سوي دي، چي له لومړنیو پلټنو وروسته به د نورو اجراآتو په موخه اړوندو ارگانونو ته ور وپېژندل سي.

## آمریت مستقل سمع شکایات مقام وزارت مالیه به ۱۸ شکایت رسیدگی کرده است

آمریت مستقل سمع شکایات مقام وزارت مالیه رسیدگی به شکایات ناشی از فساد، کم کاری، سهل انگاری و برخورد غیر مسئولانه برخی مسئولین و کارمندان این وزارت را به عهده داشته و شکایات واصله را مستقیماً با مقام وزارت شریک می سازد. این آمریت از اول دلو الی اخیر دلو سال جاری (۱۴۰۳) مجموعاً (۲۲) شکایت را دریافت و استماع نموده که از آنجمله به (۱۸) شکایت رسیدگی صورت گرفته و (۴) شکایات دیگر هم بنابر نبود معلومات کافی و ارائه مدارک اثباتیه توسط شاکی، از طرف این اداره غیر موّجه خوانده شده است. شکایات که با این اداره شریک ساخته شده، (۹) شکایت از طریق وتساپ، (۴) شکایت از طریق تلیفون و (۹) شکایت هم حضوری صورت گرفته که شکایات واصله در بخش های املاک، تدارکات، مالی و منفکی بوده که به اسرع وقت از طرف این آمریت به آن رسیدگی صورت گرفته است. قابل یاد آوری است که تمام هموطنان می توانند شکایات، پیشنهادات و نظریات اصولی شان را در رابطه به بخش های مختلف وزارت مالیه بخصوص منابع عوایدی، اصلاحات در بخش استخدام از طریق ایمیل، وتساپ، تلیفون، حضوری و صندوق شکایات با این اداره شریک ساخته که آمریت متذکره بعد از طبقه بندی شکایات به آن بطور شفاف و به موقع رسیدگی خواهد نمود.

شماره های تماس: ۰۲۰۲۹۲۴۲۳۳/ ۰۲۰۲۹۲۴۱۹۰
واتس آپ: ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦
ایمیل آدرس: Officialcomplaints@mof.gov.af





## د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس د امربالمعروف وزارت لخوا د همغږۍ په جوړه سوې غونډه کي گډون وکړ

د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس مولوي عبدالهادي سیف الخالد د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزارت د دعوت او ارشاد د چارو د سمون لوی ریاست د همغږۍ په جوړه سوې دوه ورځنۍ غونډه کي گډون وکړ. دغه غونډه، چي د ټولو اماراتي وزارتونو د دعوت او ارشاد ریاستونو د رئیسانو په گډون جوړه سوې وه؛ موخه ئې د یادو ریاستونو لخوا د فعالیتونو کلنی راپور وړاندي کول او د لا همغږۍ رامنځته کول وو. په دغه لړ کي د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس هم د دغه ریاست د کړنو، لاسته راوړنو او وروستیو پرمختگونو په تړاو کلنی راپور وړاندي کړ او د دغو پرمختگونو لامل ئې د وزارت د مقام او کارکوونکو ترمنځ همغږي او همکاري وبلله. د یادوني وړ ده، چي د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست له خپل مهالوېش سره سم، د دغه وزارت کارکوونکو ته له مراجعینو سره د ښه سلوک، د اړوندو چارو پر وخت ترسره کولو او د شریعي اصولو د بشپړ مراعتولو په تړاو بېلا بېل ښوونیز او تدریسي پروگرامونه چمتو کوي، چي په یادو برخو کي ئې ښې پایلي لرلي دي.




## برنامه آموزشی اساسات و مهارت های تفتیش برای مفتشین برگزار گردید

ریاست عمومی تفتیش داخلی وزارت مالیه برنامه آموزشی تحت عنوان "اساسات و مهارت های تفتیش" به منظور ارتقای ظرفیت مسلکی مفتشین و کارمندان این ریاست برگزار نمود. در نشستی که به همین مناسبت در خیبرهال وزارت مالیه راه اندازی گردیده بود، قاضی شیرزمان بلوچ، رئیس تفتیش و ارتقاع ظرفیت دارایي های ریاست تفتیش داخلی وزارت مالیه، مولوی فضل الرحمن عابد، رئیس تفتیش سیستم ها و کشف تقلب، مولوی ضیا الرحمن یعقوبی، آمر ارتقای ظرفیت واحد های بودجوی و شماری از مفتشین و کارمندان ریاست تفتیش داخلی اشتراک داشتند.



رئیس تفتیش و ارتقاع ظرفیت دارایي های ریاست تفتیش داخلی در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، تفتیش یک فعالیت سیستماتیک، هدفمند و مستقل است که در افزایش شفافیت به ما کمک می کند. بخاطر اجرای درست امور، اول خود را آگاه ساخته بعد دیگران را مشورت بدهیم و این برنامه آموزشی این فرصت را به ما میدهد که ظرفیت مسلکی خود را انکشاف داده و بخاطر شفافیت هر چه بیشتر امور به دیگران مشورت بدهیم. وی از کارمندان خواست تا در این برنامه اشتراک فعال داشته و نواقص خویش را برطرف نمایند. گفتنی است که این برنامه به مدت یک ماه ادامه داشته و در آن اساسات تفتیش، گزارش نویسی تفتیش، تفتیش گمرکات، تفتیش عواید، تفتیش بودجه، تفتیش خزاین، تفتیش سیستم های معلوماتی و تفتیش موضوعات خاص به اشتراک کنندگان تشریح خواهد شد.

## د مرکز او ولایتي گمرکونو کارکوونکو ته یو میاشتنی روزنیز پروگرام پای ته ورسېد

د مالیې وزارت د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له کلني تدریسي پلان سره سم د مرکز او ولایتي گمرکونو (۳۷) تنه کارکوونکو ته د گمرکونو او عوایدو په اکاډمۍ کي د «مسلکي کولو» تر سرلیک لاندي یو میاشتنی روزنیز پروگرام د یو لړ مراسمو په ترڅ کي د تصدیق پاڼو په وېشلو سره پای ته ورسېد. په دغه پروگرام کي د گمرکونو لوی ریاست اړوند د قانون د تنفیذ رئیس محترم حافظ حضرت، د مالیې وزارت د کارکوونکو د چارو ریاست د استخدام آمر مولوي نیاز محمد منصور، د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مدرس شیخ مولوي محمد مبین امیني، د عوایدو او گمرکونو د ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي او د یاد آمریت ښوونکو گډون کړی وو. د غونډې په پرانیستي وینا کي د گمرکونو لوی ریاست د قانون د تنفیذ رئیس حافظ حضرت گډونوالو ته وویل، چي تاسي د ولس غوره خلک یاست او باید خپل مسؤلیتونه او دندې په ښه توگه ترسره کړي، همدارنگه ولس پر تاسې نېک گمان کړی او مشرانو تاسې ته دغه دنده درسپارلې؛ نو لازمه ده، چي دغه نېک گمان ضایع نه کړئ. وروسته بیا د مالیې وزارت د دعوت او ارشاد ریاست مدرس مولوي شیخ محمد مبین امیني په خپلو خبرو کي د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د روزنیزو پروگرامونو له جوړېدو مننه وکړه او له فارغینو څخه ئې وغوښتل، چي خپل ځانونه په ښو اعمالو سمبال کړي او اړوند ولایاتونو کي د دعوت او ارشاد له شته آمریتونه سره پوره همکاري وکړي. ور پسې د مالیې وزارت د کارکونکو چارو ریاست د استخدام آمر مولوي نیاز محمد منصور هم په خپلو خبرو کي وویل، کومې زده کړې، چي کوی تر خپلو نورو همکارانو ئې په سمه توگه ورسوي او ترڅنگ ئې په خپلو ورځنیو چارو کي هم پلي کړي. د یادوني وړ ده، چي په دغه پروگرام کي د مرکز او ولایتي گمرکونو د تشرېح او بررسۍ کارکوونکو ته د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ آمریت د مسلکي ښوونکو له لوري گمرکي قوانین، طرزالعملونه، د گمرکي اموالو تشرېح، گمرکي بیه ټاکنه، گمرکي بررسي، کورنی او بهرنی ټرانزیټ او اسیکوډا سیستم تدریس سوي دي.




شتمني SHTAMANI
اوونیزه

# د تصمیم نیوني بنسټیز ټکي

عبدالجبار وحدت
د ملي بودیجې عمومي رئیس

تصمیم په رهبرۍ کي د زړه حیثیت لري، یوه خبره ډېره مشهوره وه چي تصمیم د بري لومړی شرط دئ، اړتیا ده، چي دې برخي ته زیاته پاملرنه وسي، رهبران او مدیران تصمیمونه په خورا دقت سره ونیسي، د تصمیم نیوني لنډ مفهوم په یوه موضوع کي د یوه کس یا رهبر د نظر استقرار، ثبوت او د قاطعیت حد ته رسېدل دي. همدارنګه له مختلفو نظریاتو او بدیلونو څخه یو ټاکل تصمیم نیونه ده او د القرار کلیمي څخه یاده کلیمه اخیستل سوې ده، په معاصر مدیریت او رهبرۍ کي تصمیم نیوني ته د موضوع حل هم ویل کېږي، یا د هغو پایلو له وړاندوینې او ارزونې څخه عبارت دئ، چي له موجوده حل لارو څخه د یوې حل لاري په قطعي ټاکلو سره موخې تر لاسه کوي، د اسلام له نظره تصمیم نیونه په لاندي ډول تعریفولی سو.




**هر رهبر او مدیر ته د تصمیم نیوني مخکي لاندي کارونه اړین دي:**

۱. په هر تصمیم کي د خیر فکر وکړئ او په الله تعالی توکل هغه وخت وکړئ، چي د موضوع ټول اړخونه مو بشپړ څېړلي وي: د دقیقو معلوماتو باوجود په پاك رب تعالی توکل یقیني تصمیم د خیر لوري ته بیایي او موږ ته دا جرات را کوي، چي قاطع تصمیم ونیسو.

۲. ۸۰ سلنه معلومات راټول کړئ بیا تصمیم ونیسئ: له تصمیم نیوني څخه مخکي د اطلاعاتو راټولول اړین دي، معمولاً تصمیم د یوې کره ډېټا په اساس نیول کېږي.

۳. تاسي باید له مهمي تصمیم نیوني څخه مخکي کافي اندازه ارام کړی وي: ارام ذهن د تصمیم نیوني له پاره ډېر مهم دئ، څېړني په ډاګه کوي، چي له هرو څلورو ترافیکي پېښو څخه یوه ئې بې خوبه موټروان وي، بناً مهم تصمیمونه باید د بې خوبي، ناروغۍ او خسته ګۍ په حالت کي و نه نیول سي.

٤. د وخت مدیریت: په تصمیم نیونه کي د وخت د مدیریت موضوع ډېره مهمه ده په تصمیم نیونه کي ځنډ او تلوار دواړه تاوان کوي، بناً که ډېره اړتیا نه وي په بېړه تصمیم مه نیسئ.

٥. د مشورې ورکوونکی وپېژنی: که څوك په تصمیم نیونه کي مشوره درکوي، اړتیا ده، چي بشپړ تحلیل ئې وکړئ، ځکه مفت هیڅ نشته یوه خبره ډېره مشهوره ده، چي مفت خوراك په دام /لومه کي وي.

٦. د موضوع حساسیت معلوم کړئ: که موضوع ډېره حساسه او مهمه وي، بیا بیا فکر وکړئ او ستراتیژیکه تصمیم نیونه وکړئ، بیا بیا فکر د دې له پاره اړین دئ، چي هیپنوتایز سوي خو به نه یاست، احساساتي چلند نه دئ په کار، بلکي اساساتي چلند مهم دئ.

۷. امکانات او وړتیا په پام کي ونیسئ: مانا دا، چي له خپلو امکاناتو او وړتیاوو پورته تصمیم مه نیسئ.

۸. په مشخصه موضوع باید ذهن متمرکز کړئ: ډېری مغلق او سخت کارونه د ذهني تمرکز په حالت کي شوني دي، بناً د تصمیم نیوني له پاره ذهني تمرکز نهایت اړین دئ.

۹. له ستونزي څخه فاصله اختیار کړئ: څومره به ښه وو، چي له ستونزمنو حالاتو یو ځل راوتلی، څو ورځي وروسته مو په ارامه تصمیمونه نیولی، دا یقیني مهمه چاره ده .

۱۰. له واقعي دنیا فاصله مه اختیاروئ: همېش واقع ګرا اوسئ، واقعي حالات او حقیقي نړۍ او امکانات وګورئ، یا واقعیتونه درك کړئ، بیا تصمیم ونیسئ، پایله به ئې ډېره ښه وي.



۱۱. له سیستماتیکي ستراتیژۍ څخه ګټه پورته کړئ: تصمیم نیونه یوه سیستماتیکه پروسه ده او په دې پروسه کي (Trade off) حتمي دئ، ځیني شیان له لاسه ورکول حتمي دي او سیستماتیکوالی ځکه مهم دئ، چي د تدریج اصول باید مراعات سي.

۱۲. د خپلي تصمیم نیوني طریقه او اسلوب وپېژنئ: د خپلي تصمیم نیوني اسلوب او سبك باید وپېژنئ او لازم نوښتونه په کي رامنځته سي.

۱۳. د نورو له تصمیمونو څخه درس واخلئ: ضرور نه ده، چي د نورو ناکامې تجربې موږ بیا و ازمایو، ښه ده چي د نورو له مثبتو تجربو څخه ګټه واخلو او د تصمیم نیوني د ناکامۍ له وېري مو بې غمه کوي، ژوند ډېر لنډ دئ ، مهمه نه ده، چي د برېښنا نیولو تجربه په ځان بیا بیا وکړو، هر څه واضح سوي دي.

۱٤. د بدترینو شرایطو له پاره هم فکر وکړئ: د تصمیم نیوني د پایلو او حتی سختو شرایطو له پاره هم اماده اوسئ.

۱٥. له لاسه ورکول او لاسته راوړل: په تصمیم نیونه کي یو تحلیل بل هم اړین دئ، چي هغه څه چي لرو ئې او د هغه څه له پاره چي لاسته ئې راوړو، د کوم یوه ارزښت لوړ دئ؟

۱٦. ځیني وخت مهم نقاط باید نالیدلي و نه نیسو: ځیني وخت موږ په تصمیم کي بیخي ژور ځو او یوازي هغه څه وینو، چي لیدل ئې غواړو، نو اړینه ده، هغه څه چي پر موږ بد لګېږي یا مو نه خوښېږي، له پامه وغورځوو.

۱۷. د فکري چوکاټ قدرت: په فکري چوکاټ او چاپېریال مو غور وکړئ او ځان له محدودیت څخه وساتئ او پراخ تفکر وکړئ.

۱۸. د بې ځایه سکون ښکار نه سئ: کوښښ باید وکړو، چي په فلج حالت کي پاتې نه سو او د سکون ښکار نه سو، له هیڅ تصمیم نیوني بهتره دا ده، چي یو تصمیم ونیول سي، معقولیت شرط دئ.

۱۹. دا ومنئ، چي تصمیم نیونه همېشه له ځان سره خطر لري: تصمیمونه همېش ګټې نه لري، ځیني وخت خطرات هم له ځان سره لري، چي ممکن مالي او یا غیر مالي وي، نو بناً احتمالي خطراتو ته د رهبر د ذهن چمتووالی اړین دئ.

۲۰. تر ځان مستعد خلك سلاکاران کړئ: یوه خبره ډېره مشهوره ده، چي دوستان د خوښۍ او دوستۍ له پاره وساتئ، مګر کاري ماحول په تخصصي او پاکو انسانانو ښایسته کړئ. نو که سلاکاران تر رهبر تکړه او مستعد خلك وي، تصمیم به حتماً ښه وي.

۲۱. د دوه زړیتوب له زندان څخه ځان خلاص کړئ: دوه زړیتوب یا شك د تصمیم نیوني پروسه سخته زیانمنوي، بناً جدي او قاطع اوسئ.

۲۲. ځیني وخت لږ سټریس هم ښه وي: مناسبه اندازه سټریس/فشار ښه وي، ذهن فعاله ساتي، مګر دا باید له حد زیات نه وي.

۲۳. له نورو څخه مه متاثره کېږئ: کوښښ وکړئ، چي که مو تصمیم درست وي او ډاډمن یاست په دې اړه له نورو څخه متاثره نه شئ او مخ پر وړاندي خپل مزل پیل کړئ.

۲٤. لوړ لرلید ته مو فکر کوئ: په تصمیم نیونه کي د خپل لوړ هدف لوړه نقطه په پام کي نیول مهمه ده، هغه په دې مانا چي کوچني مسائیل مو باید بې ځایه مصروف نه کړي.

۲٥. په تېر پسي مه ښلئ: له تېر څخه درس واخلئ، مګر مه پوري ښلئ، ځکه نن ورځ مو متاثره کوي، په تصمیم نیونه کي دا اصل ضرور دئ. لنډه دا، چي تصمیم باید په پټو سترګو او احساساتي ډول و نه نیسو او نیمګړی تصمیم باید و نه نیول سي، باید بشپړ ئې کړو ځکه هغه تصمیمونه، چي په نیمایي کي پاتي کېږي له دې څخه نه تصمیم نیول مناسب دي.

# اعلانات داوطلبی

## د داوطلبۍ خبرتیا

د مالیې وزارت د امارتي املاکو لوی ریاست، غواړي چي د کابل ښار په لومړۍ ناحیه کي د (٥) بابه دوکانونه او د (۹) مي ناحیې اړوند د کابل، جلال اباد عمومي سړك سره د (٦۲۰) متره مربع ځمکه په جلا جلا ډول د داوطلبۍ له لارې اعلان ته وړاندي کړي.

۱-د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند یو باب (۴۹) نمبر دوکان چي (۱۱.٦٥٥) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۳۹۰۰۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۲- د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند یو باب (٦۷) نمبر دوکان چي (۱۲.۷۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۳۳۳٦۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۳-د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند یو باب (۹۴) نمبر دوکان چي (٥.۴۱٥) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۳۲۱٥۹) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

۴-د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د ظاهر شاهي مارکېټ اړوند یو باب (۱٦۱) نمبر دوکان چي (۱۲.٦) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۴۷۳٥۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥۱۷۱-٦۹,۱۷۷٥٦

٥ - د کابل ښار لومړۍ ناحیې اړوند د مدینه مارکېټ یو باب (۸۹) نمبر دوکان چي (۱۱.٥۲) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۳۹۹٥۰) افغانۍ ده د یو کال لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥۱۷٤۱-٦۹,۱۷۷۲٤

٦ - د کابل ښار (۹) مي ناحیې اړوند د کابل – جلال آباد عمومي سړك سره په پشمینه بافي ځمکه چي (٦۲۰) متره مربع مساحت لري او میاشتنۍ ابتدایي کرایه یې (۱۲۷۱۰) افغانۍ ده د (۳) کلونو لپاره په کرایه ورکوي.

کوردینات (جی.پی.اس نمبر) ۳٤,٥٤۳۷۹-٦۹,۲۸٥٤٤

هغه حقیقي او حکمي اشخاص، چي غواړي پورته ذکر سوي ملکیتونه په کرایه ونیسي، کولای سي چي خپل غوښتنلیکونه د (۱۴۰۳/کب/۰٥) نېټې څخه وروسته تر (۱۴۰۳/کب/۲٥) نېټې پوري د امارتي املاکو لوی ریاست ته تسلیم او شرطپاڼه ترلاسه کړي.

آدرس: د سینما پامیر (۱۴) پوړیزه ودانۍ، (٥) پوړ، د مرکزي ترونونو د ارزوني لوی مدیریت.

د داوطلبۍ نېټه: د (۱۴۰۳/کب/ ۲٦) نېټه، له غرمې مخکې د سهار ۱۰:۰۰ بجې.

د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷ -۰۲۰۲۹۲٤٦۲٤

## اعلان داوطلبی

مدیریت عمومی املاك امارتی مستوفیت ولایت هرات موازی (٤,۷۸) جریب زمین معه یک باب تعمیر واقع ابتداء جاده فرهنگ عقب بلاك های ملکیت ریاست محترم فواید عامه ولایت هرات را به اساس استعلام های دفتر رهنمای معاملات حق الاجاره ماهوار مبلغ (۲٦٥۰۷) افغانی با کوردینات Y-۳۷۹۸۲٦۰ و X-٤۲۸۲۳۲ از طریق داوطلبی و آفر گشایی مطابق به طرزالعمل قرار داد های املاك امارتی به اجاره دهد. بناً اشخاص حقیقی و حکمی که خواهان به کرایه گرفتن جایداد فوق باشند درخواست های خویش را برای مدت (۷) یوم را به اعتبار از تاریخ ۷ حوت سال ۱٤۰۳ الی ۱۳ / حوت/ ۱۴۰۳ به مدیریت عمومی املاك امارتی مستوفیت ولایت هرات سپرده، شرطنامه را مطالعه، تامینات نقداً اخذ میگردد.}

تاریخ مجلس داوطلبی و آفر گشایی ١٤/ حوت/ ١٤٠٣ به ساعت ۲ بجه بعداز ظهر برگزار میگردد.

آدرس: مستوفیت ولایت هرات مدیریت عمومی املاك امارتی

شماره تماس : ۰۷۹٤۳۳۸۹۸۹

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
ایکسپاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: (+)۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰



# Directorate of Nimroz Customs Incinerates Over 46tn of Expired Illicit



The Directorate of Nimroz Customs of MoF in coordination with provincial directorates has burned 29,270kg of expired food and non-food items and 17,230kg of expired medicines that were in the hangars of the said customs in the presence of authorized delegations from the relevant bodies. These expired illicit, which were seized in different parts of Afghanistan, were collected at the Nimroz Customs and then burned in in tandem with relevant directorates. Noticeably, the Ministry of Finance always tries to prevent the import of expired and low-quality goods into the country, and is also taking necessary measures for eliminating them.

## MoF Modernization Attempt;

# General Directorate of Customs Installs High-tonnage Weighing Scale at Ghulam Khan Customs



The General Directorate of Customs has installed and put into operation a high-tonnage weighing scale at the Ghulam Khan Customs in Khost Province at a cost of 3.4 million Afs. The weighing scale platform is 22m long and 3m wide, and is capable of determining the weight of 120 tons indeed. "The installation and construction of this platform will prevent the loss of national revenues, and excess weight", added the officials of the customs. It is worth noting that before the installation at the aforementioned customs, two high-tonnage weighing scales were repaired and put into operation at the Naib Abad Customs in Balkh Province, one at Aqina Customs, and one scale at Herat Customs as well.




# د چین - افغانستان د کانټېنرونو نوی مسیر د قزاقستان او اُزبکستان له لارې سوداګریزې اړیکې پیاوړې کړې



د دریا – Daryo او ټرانسپورټ کاریډورز – TRANSPORT CORRIDORS په نوم نړیوالو رسنیو ریپورټونه کاږي، چې له چین څخه افغانستان ته د کانټېنرونو یوه داسې نوې لار پیل سوه، چې یو خو له قزاقستان او اُزبکستان څخه عبور کوي او بل دا چې د بار وړلو چټکتیا او هم د لوژیستیک/ لوجیستیک مصارف راکموي. وايي لومړی اورګاډی د (۱۰./ فیبروري/ ۲۰۲۵) ز د چین له چانګ چینګ څخه روان سو، چې د قزاقستان د خورګوس له لارې تېرېږي او بیا د افغانستان په حیرتان بندر کې خپل وروستي منزل ته د رسېدو تر مخه د اُزبکستان له خاورې حرکت کوي. ریپورټونه زیاتوي، چې دا سفر به د (۱۲ – ۱۵) ورځو ترمنځ وخت ونیسي، کوم چې دا ډول رېل ټرانسپورټ د چین او افغانستان ترمنځ توکو د لېږد له پاره یو ډېر باوري انتخاب دئ. دواړې رسنۍ په لږ وخت او کم مصرف سره د دې نوي مسیر په اړه داسي توري اُوډي: «د سړک ټرانسپورټ په پرتله د اورګاډي پټلۍ دا لاره د تحویلي وخت (۳ - ۵) ورځې را کموي او هم لوژیستیکي مصارف بیا په خپل وار سره ٪(۱۵ – ۲۰) پورې راکمېږي. یادې رسنۍ د کارپوهانو په حواله استناد کوي، چې وايي دا سواګریزه ـ ټرانسپورټي لاره به د افغان سوداګرو له پاره اقتصادي فرصتونه په وجود راولي او په راتلونکو میاشتو کې به د بار وړلو حجم هم زیات سي. څنګه چې د چین او افغانستان ترمنځ د کانټېنرونو لېږد دوام لري، نو د اورګاډي پټلۍ نوی جوړ سوی دهلېز د پولې دواړو خواوو ته سوداګرۍ هم ډېره اغېزمنه او ارزانه کوي. د مخینې په توګه وایي، په (اکتوبر/ ۲۰۲٤)ز کې قزاقستان او افغانستان یو تړون لاسلیک کړ. له دې څخه ئې موخه دا وه، چې دوه اړخیزې سوداګرۍ (۳) میلیارډو ډالرو ته لوړه کړي او په تړون کې په افغانستان کې د دوو رېل پټلیو د لیکو په جوړولو کې قزاقستان شامل دئ؛ هغه لکه: «تورغونډۍ - هرات - کندهار - سپین بولدک» او «مزار شریف – خرلاڅي» پټلۍ.

- د دې نوي مسیر سفر به د (۱۲ – ۱۵) ورځې وخت ونیسي او دا ډول رېل ټرانسپورټ د چین او افغانستان ترمنځ د توکو د لېږد له پاره یو ډېر باوري انتخاب دئ.
- د سړک ټرانسپورټ په پرتله د اورګاډي پټلۍ دا لاره د تحویلي وخت (۳ - ۵) ورځې را کموي او لوژیستیکي مصارف بیا ٪(۱۵ – ۲۰) پوري راکمېږي.
- دا سواګریزه ـ ټرانسپورټي لاره به د افغان سوداګرو له پاره اقتصادي فرصتونه په وجود راولي او په راتلونکو میاشتو کې به د بار وړلو حجم زیات سي.

## د مالیې وزارت د ګمرکونو لوی ریاست تل ستاسو په خدمت کې دئ!

که تاسو د ګمرکونو په هکله هر ډول معلوماتو ته اړتیا لرئ او د کومې ستونزې حل او یا شکایت را رسول غواړئ؛ نو مهرباني وکړئ له موږ سره په لاندې شمېره اړیکه ونیسئ!
اړیکه: ۲۲۱

## ریاست عمومی گمرکات وزارت مالیه همیشه در خدمت شماست!

اگر شما در مورد گمرکات به هر نوع معلومات نیاز دارید و یا میخواهید مشکل تان حل و شکایت تانرا به سمع ما برسانید، میتوانید به شماره ذیل با ما در تماس شوید!
تماس: ۲۲۱



## د شکایتونو اورېدلو خپلواک آمریت ستاسو ستونزو او شکایتونو ته رسېدنه کوي

هر هیوادوال، چې د مالیې وزارت د اړوند چارو په تړاو ستونزه یا شکایت ولري، کولای سي، چې د دغه وزارت د شکایتونو اورېدلو له خپلواک آمریت سره ئې په حضوري بڼه او یا د لاندې ادرسونو له لارې شریک کړي.
تیلیفون او وټس اپ شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۲۳۳ /۰۲۰۲۹۲٤۱۹۰/ ۰۷۴۵۷٦۵۷۵٦ (+۹۳)
برېښنالیک: officialcomplaints@mof.gov.af

شتمنې اوونیزه د ټولو قدرمنو لوستونکو د مقالو منونکې ده؛ مقالې باید اقتصادي او د مالیې وزارت له اصولو سره سمې وي. له ټولو درنو همکارانو او د هیواد له لیکوالو څخه هیله کوو، چې خپلې مقالې د دغه برېښنالیک tamas@mof.gov.af له لارې موږ ته راواستوي.